IB DIPLOMA PROGRAMME
PROGRAMME DU DIPLÔME DU BI
PROGRAMA DEL DIPLOMA DEL BI

**PASHTO A1 – STANDARD LEVEL – PAPER 1**
**PACHTO A1 – NIVEAU MOYEN – ÉPREUVE 1**
**PASHTU A1 – NIVEL MEDIO – PRUEBA 1**

Tuesday 3 May 2005 (morning)
Mardi 3 mai 2005 (matin)
Martes 3 de mayo de 2005 (mañana)

1 hour 30 minutes / 1 heure 30 minutes / 1 hora 30 minutos

---

INSTRUCTIONS TO CANDIDATES

- Do not open this examination paper until instructed to do so.
- Write a commentary on one passage only. It is not compulsory for you to respond directly to the guiding questions provided. However, you may use them if you wish.

INSTRUCTIONS DESTINÉES AUX CANDIDATS

- N'ouvrez pas cette épreuve avant d'y être autorisé(e).
- Rédigez un commentaire sur un seul des passages. Le commentaire ne doit pas nécessairement répondre aux questions d'orientation fournies. Vous pouvez toutefois les utiliser si vous le désirez.

INSTRUCCIONES PARA LOS ALUMNOS

- No abra esta prueba hasta que se lo autoricen.
- Escriba un comentario sobre un solo fragmento. No es obligatorio responder directamente a las preguntas que se ofrecen a modo de guía. Sin embargo, puede usarlas si lo desea.

# اوله برخه

# Part 1

د لاندی دوو متنونو څخه پر یوه غور وکړی او تشریح یې کړی.

ا – الف (1a) (Prose)

که څوک خوشحاله کیږی او که خپه کیږي زه څه وایم او خپله غاړه خلاصوم، گوندي دا ساده مخلوق لږ غوندی پوه شي او فکر وکړی.

زه اروپا ته نه یم تللی، امریکا مي نه ده لیدلې، په افریقا کی نه یم گرځیدلی او هیچیری نه یم تللی، مگریو عجیب مملکت می لیدلی دی او عجیب مخلوق پکی اوسي.

په دې مملکت کی ددې په ځای چې بډایان او مالداران خوارانو او غریبانو ته څه ورکړي، خواران مسکینان د ډیر مال او دولت خاوندانو ته څه ورکوی او هغوی هم نه شرمیږي اخلي یې.

ته به وايي دوی رشوت خواره ماموران او حاکمان دي چې په لکونو روپۍ او جايدادونه لري او له يوه ډير عاجز سړی نه هم په ډيره جزي فقره کی چې سل دوه سوه روپۍ وانخلي نه يې پريږدي.

نه زه دغه بې رحمه بې انصافه رشوت خواره نه ښيم خيرات خواره ښيم.

په دی مملکت کې چې زه ورته عجيب مملکت وايم ميليونو خيرات خور هم پيدا کيږی او ډير غنيان دخوارانو او مسکينانو خيراتونه خوري.

په دغه وطن کی ما داسی خلگ وليدل چې اسونه ورته ولاړدي موټر لري، قصرونه او باغونه، ځمکي او پټي يې په هرځای کی شته، مگر داسي خلگونه خيراتونه او شکرانې اخلي چې هغوی د خپل اولاد نفقې او جامې ته حيران دي او د دوی نوکرو ته هم نه رسيږي.

په دغه مملکت کی معکوس وضعت دی، وږی او بربنډ

له مړو سره مالي مرسته او کومک کوی.

په کوم ځای کی چې د بې وزلو او خوارانو په خیراتونو او شکرانو غنیان او متمولین ځمکي او جایدادونه، کورونه او باغونه، موټر او اسونه اخلي، ایا د هغوی په حال افسوس او حسرت نه دی په کار؟

اې خوارو او بې وزلو پښتنو هرڅوک چې غنی او دولتمن شی میاوی که ملا، سید وی او که پیر هغه د خیراتونو او ذکاتونو مستحق نه دی. هغوی باید تاسي غوندی عاجزانوا او خوارانو ته خیراتونه او زکاتونه در کړي او په تاسي باندي زړه وسوزوي.

(د گل پا چا الفت د نثرونو څخه)

رهنما سوالونه:

ضروري نه ده چې دې سوالونو ته مستقیم جواب ورکړی.

- په دې متن کی د لیکوال هدف څه دی؟
- په پښتنو کې پیران څه تاثیر لری؟
- لیکوال په خپل انتقادی موقف څنگه خپل پیغام لوستونکو ته رسولای سي؟
- لیکوال چې د لومړی کس په تو گه خبري کوی څنگه مرسته کوي چې تاسي ددې مضمون په مطلب پوه شی؟

## 1 ب (Poem)

## (1b)

کرد گلو کړه چې سیمه دي گلزار شي – اغزي مه کره په پښو کی به دی خارشي
ته چې بل په غشوولې هسی پوه شه – چې همدا غشی به ستا په لور گوزارشي
کوهی مه کینه دبل سړي په لار کښی – چیری ستا به د کوهي په غاړه لارشي
ته چې هرچاته په خوارو سترگوگورې – لاړو مبی به ستا صورت په خوارو خوار شي
ادم زاد په معنی واړه یو صورت دی – هر چې بل ازاروی هغه ازار شي
که ته نه کوی نظر د چا وعیب ته – هر سړی به د عیبونو پرده دار شي
دهقان کرپه لوړه مځکه باندی نه کا – سرکوزی کوه چې بڼ به دی مرغزارشي
د مات لوښي اواز کله ثابت خیژی – د هرچا عمل څه گند په خپل گفتارشي
نن چې صبح دی روښانه لار صحیح کړه – نا گهان نه به دا صبح شب تار شي
لږیې مه گڼه هرڅو که گناه لږوي – چې لږلږ ویله جمع کړه بسیار شي
که بل بد کاندي ته ښه ور سره وکړه – هریو نخل چې میوه لری سنگسارشي
تل وښو ته ازارد بدو رسي – هر چنجی ونرم چوب ته ور دو څار شي
هغه زړه به له طوفانه په امان وي – چې کښتۍ غوندي د خلگو بار بردار شي
خدای دي بد له لاسه نه کوی او که وي هم – د رحمن دي له کل بدو استغفار شي

(د رحمن بابا د دیوان څخه)

رهنما سوالونه: ضروري نه ده چې دی پوښتنو نو ته مستقیم جواب ورکړی.

- په دې نظم کی د شاعر هدف څه دی؟
- په دې نظم کی د شاعر د تخیل او الفاظ د انتخاب په هکله غور وکړی.
- څنگه د دې شعر ساختمان د معنی په افاده کولو کې مرسته کولای شي؟
- د دې نظم پر ادبي ارزښت خبری وکړی.